# بېګانه ښځو ته له ورتللو ډډه وکړئ» نو يوه انصاري وويل: اې د الله رسوله! د خاوند د خپلوانو په اړه خبر راکړه، هغه وويل: «د خاوند خپلوان مرګ دی

له عقبة بن عامر رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «بېګانه ښځو ته له ورتللو ډډه وکړئ» نو يوه انصاري وويل: اې د الله رسوله! د خاوند د خپلوانو په اړه خبر راکړه، هغه وويل: «د خاوند خپلوان مرګ دی».
[صحيح] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم له پرديو ښځو سره له اختلاط نه منع کړې او فرمايلي يې دي: پر ځانونو ووېرېږئ کله چې تاسو پرديو ښځو ته ورننوځئ او يا پرد ښځې ستاسو کورونو ته درننوځي. نو يو انصاري وويل: د خاوند د خپلوانو په اړه خبر راکړه؟ لکه د مېړه ورور، وراره، تره، د تره زوی، د خور زوی او داسې نور، چې د ښځې نکاح ورسره کېږي که چېرته يې نکاح نه وای شوې؟ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: له هغه څخه داسې ووېرېږئ لکه څنګه چې له مرګ نه وېرېږئ! ځکه چې له خسر خپلو سره يوازېتوب په دين کې د فتنې او هلاکت سبب ګرځي، نو د مېړه له پلار او زامنو پرته نور بېګانه خپلوان خو په طريقه اولی سره منع دي؛ ځکه چې د خاوند له خپلوانو سره يوازېتوب د بل چا په پرتله ډېر پېښېږي، او د نورو په پرتله ترې د بد تمه ډېره کېږي او په فتنه کې د ښکېل کېدلو احتمال ډېر دی، ځکه چې په اسان سره ورتللی شي او کولی شي له کوم اعتراض پرته ورسره يوازېتوب ولري، او دا چې چاره ترې نشته او مخنيوی يې ناشونی دی، ځکه چې د دود له مخې خلک پدې اړه سختي نه کوي، نو يو سړی د خپلې وريندار سره ګوښه کيني، چې دا د فساد له اړخه د مرګ سره ورته والی لري، د بېګانه سړي برعکس چې له هغه نه خو بېخي ډډه کول په کار دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5888